اسلامي بانکداري او مالي خدماتو د څارنې لوی آمریت

ریاست عمومی نظارت بانکداری و خدمات مالی اسلامی

د افغانستان بانک

DA AFGHANISTAN BANK

شماره : ۱۱۳۴۸ م ج ۹۸۰۶

تاریخ : ۱۴۴۰/۹/۳۰

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان ټولو متعارفو جواز لرونکو بانکونو او د بهرنیو بانکونو د څانگو قدر وړ ریاستونو ته!

السلام علیکم و رحمة‌الله و برکاته،

**ماهیت : متحدالمال**

**موضوع: د بانکونو د فعالیتونو د اسلامي کولو مراحل**

د ۱.۱.۱ قدر وړ کابینې د ۱۵ گڼې ۱۴۰۰/۰۹/۲۹ نیټې مصوبې، دافغانستان بانک د ۱۳۶۴۹ گڼې ۱۴۰۰/۱۲/۰۴ نیټې او ۱۳۶۴۸ گڼې ۱۴۰۰/۱۲/۰۴ نیټې متحدالمالونو په تعقیب او د افغانستان بانک د عامل پلاوي د ۵۴۵ شمیرې ۱۴۴۵/۰۹/۱۶ هـ ق چې د ۱۴۰۳/۰۱/۰۷ هـ ش نیټې سره سمون خوري د تصویب پر بنسټ لیکل کیږي:

لکه څرنگه چې تاسو په جریان کې یاست، د افغانستان اسلامي امارت د قدر وړ کابینې د پور ته ذکر شوې پریکړې پر بنسټ د افغانستان ټول بانکي سکتور مکلف دی چې سود او غیر مشروع فعالیتونه بند او اسلامي بانکداری ته تبدیل شي. بناءً په افغانستان کې ټولو سودي/متعارفو او د بهرنیو بانکونو د نماینده گیو محترمو ریاستونو ته هدایت ورکول کیږي چې اسلامي بانکدارۍ ته د خپلو بانکونو د تحویل د پروسې چاري د لاندي مراحلو په نظر کې نیولو سره تر سره کړي. د یادولو وړ ده چې د لاندي مراحلو ځیني فعالیتونه له وړاندي د ځینو بانکونو له خوا تر سره شویدي. یاد بانکونه دي د اجرا شویو مرحلو څخه پرته نوري مرحلې تر سره کړي. همدارنگه بانکونه کولای شي د لاندي ذکر شویو مراحلو څخه هم مهاله څو مرحلې یو ځای تر سره کړي.

**د بانکونو د فعالیتونو د اسلامي کولو مراحل**

**لومړۍ مرحله: ابتدايي اقدامات**

۱٫۱. د ټولو بانکونو ونډه وال او د نظار هیئتونه مکلف دي چې اسلامي بانکوالی ته د بدلون منظوري ورکړي.

۱٫۲. ټول بانکونه مکلف دي د بدلون د پروسې د اسانتیا او لارښوونې لپاره د شرعي چارو آمریت او شرعي هیئت رامنځ ته کړي.

۱٫۳. د سوداگریزو کړنو او د بدلون د پروسې د ښه پرمخ بیولو په موخه ټول بانکونه مکلف دي د نظار هیئت په تصویب د بدلون یوه با صلاحیته پنځه کسیزه کمیته د شریعه هیئت د یو غړي او د شریعه چارو د آمر په شمول رامنځ ته کړي.

**دوهمه مرحله: روزنه او ظرفیت لورونه**

۲٫۱. بانکونه مکلف دي د ظرفیت جوړونې او روزنې پروگرام د افغانستان بانک ته د منل شوو روزنیزو ادارو سره په همغږۍ ترتیب کړي.

شمېره 3602

1445/9/30

1403/1/21

۲,۲. بانکونه مکلف دي د نظار هیئت، کلیدي اجرایوي غړو، د مرکزي دفتر او نورو کارمندانو د ظرفیت جوړونې او روزنې په اړه پروګرامونه پیل کړي.

**دریمه مرحله:** پالیسی، کړنلارې او محصولات

۱,۳. بانکونه مکلف دي د ټولو اصلي دندو اړوند شرعي محصولات، پالیسیانې، کړنلارې او لارښودونه ترتیب او د شرعي هیئت او د نظار هیئت له خوا له تائیدي وروسته يې د افغانستان بانک ته راواستوي.

۲,۳. هغه سودي بانکونه چې د اسلامي بانکوالی کړکۍ یا اسلامي تابع شرکت لري، کولای شي د دوی پالیسیانې، کړنلارې، لارښودونه، محصولات او عملیاتي برخې راواخلي او پاتې نور موارد (که ضرورت وي) د شرعي اصولو سره سم عیار کړي.

۳,۳. بانکونه کولای شي د پالیسیو، محصولاتو کړنلارو او لارښودونو په جوړولو کې یو له بل سره همغږي او مرسته وکړي او ګډ روزنیز او مشورتي خدمات ترتیب یا تنظیم کړي.

**څلورمه مرحله:** د سودي سپماو تحویل

۱,۴. بانکونه مکلف دي خپلې پخوانی سودي سپارنې د قرض حسنې په اساس عیار او نوې سپارنې د شرعي محصولاتو (قرض حسنه، مضاربه، وکاله و غیره) پر اساس واخلي.

**پنځمه مرحله:** سیستم او کنټرول

۱,۵. بانکونه مکلف دي د اسلامي مخصولاتو مطابق د معلوماتي ټکنالوژي سیستم عیار کړي.

**متفرقه موارد**

۱- ددې سند له ځینو احکامو څخه معافیت هغه وخت جواز لري چې بانک د موضوع په هکله د شرعي هیئت مشوره او تصویب تر لاسه او لازم دلایل او توجیهات ولري او د افغانستان بانک ته يې په رسمي توګه وړاندې کړي.

۲- د بانکونو د شرعي امورو آمریت مکلف دی چې په منظمه توګه د بدلون له پروسې څخه کتنه ترسره او د بدلون د کمیټې په همغږۍ يې راپور چمتو کړي. یاد راپور باید د بدلون پروسې تر بشپړیدو پورې په هرو دوو میاشتو کې د بانک د شرعي هیئت او نظار هیئت له تصویب وروسته د افغانستان بانک ته واستول شي.

۳- د بدلون په اړه د متعاملینو او د بانک د اړوندو اشخاصو د خبرتیا لپاره باید د مستقیم تماس او د نورو چاپي او بریښنایي رسنیو له لارې اطلاع ورکړل شي.

۴- بانکونه مکلف دي د بدلون د پروسې په اړه د متعاملینو او اړوندو اشخاصو پوښتنو ته د ځوابونو لپاره د مساعدت میز (Help Desk) جوړ کړي.

د افغانستان بانک ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

حاجی ملا محمد احمد

دافغانستان بانک دویم مرستیال او سرپرست

۲۸/۹/۱۴۰۲

کاپي:

د بانکي څارنې محترم لوی آمریت

د افغانستان د بانکونو ټولنه

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: ۰۲۰۲۱۰۴۳۲۷/ فکس: ۰۰۹۳(۲۰)۲۱۰۰۳۰۵ / ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت www.dab.gov.af